خپلواکی استقلال
www.esteqlaal.net

عبدل قیوم ۳۰ جولای، ۲۰۲۲

# ۱۳۵۲چنگاښ ۲۶ د بد مرغیو پیل وو.

## سردار محمد داود خان او داود خانی له ۱۳۵۲ – ۱۳۵۷هـ پوري

### پنځمه برخه

دا ځکه چي افغانستان له هره بابته يو نيستمند هيواد وو، ځوان نسل تازه د يوې نيم بندي د موکراسی بوی احساس کاوه، ځوانسل کوښښ کاوه ځانونه د دموکراسۍ په فضأ کی خپلو خلګو ته ورښکاره کړي. د هيواد په ښارونو کي ميشتو منورينو( مشرانو او ځوانانو) له سياست سره علاقه پيدا کړې وه، جمعيتونه، ګوندونه او سازمانو چي په هيواد کي يوه نوې خبره وه يو په بل پسي صحنې ته را وتل. دوی د حکومت پر نيمګر تياو باندي د نيوکو روحيه په ولسونو کي را ژوندی کول، د پوهنتون، مکتبونو، مدرسو شاکردانو او کارخانو کاريګرانو به کله نا کله د خپلو صنفي غوښتنو د لاسته را وړلو له پاره، بيله جنګ او جګړو څخه يوه نيمه ميتنګونه او مظاهرې کولې. چي دا شان کړني د شلمي پېړي په دوهمه نيماي کښي يو نړيوال عرف ګرځېدلې وو.

تر هغه وخته چي سردار محمد داود خان د خپلي شخصي تکبر او عقدې د تر سره کولو په خاطر په نظامي عمل(د ۱۳۵۲کال د چنګاښ ۲۶کودتا) لاس نه وو پوري کړی، د شاهي نظام په وړاندي کوم بل جمعيت، ګوند او سازمان سلاح ته لاس نه وو اچولی. دغه رنګ بهرنيو هيوادونو زموږ په هيواد کي لڅه لاس وهنه نه کول. دا ځکه چي بهرني لاس پوځي لړ او د دولت په وړاندي د مقابلې جرأت يې نه لاره. په ژور خفګان سره سردار محمد داود خان په هيواد کي د فکر کوونکو ځوانانو بېړی پر مختلو ته پرې نښول، دا بېړۍ يې چپه کړ او پکښي سپاره ځوانان يې ونيول، ويې وژل او څه د ده له ډاره بهر ته وتښتېده، هلته د پردويو په دام کی و لوېده، له هغه تاريخه په هيواد کي د اور بڅرکي شندل کېده را شروع سوه. په هيواد کي پاته نور جمعيتونه، ګوندونه، سازمانونه، چي د

سردار محمد داود خان د جزأ د قانون په اساس باید له فعالیته لوېدلي وای، هغسي و نسول بلکي ټولو نیم لڅ نیم ښکاره فعالیتونه کول، نه داچي هغوی کمزوري نسول بلکي تر پخوا يې و ګوندونو ته د جلب او جذب پروسه کړندی سوه.

په هیواد کي د هیواد د ساتني او کنترول ټول اختیار او امکانات خود سردار محمد داود خان په واک کي وه. دفاعي، امنیتي او کشفي اورګانونه لکه: د کورنیو چارو وزارت، ریاست جنایي، کشف، ضبط حوالات او فوځي کشفي اداري. پوښتنه داده چي دغو امنیتي او کشفي ادارو وه سردار محمد داود خان ته د هیواد له وضعیته څخه څه شان معلومات ورکاوه؟ سردار محمد داود خان د کومو معلوماتو په اساس تصامیم نیول؟ تر اوسه دې پوښتنو ته د سردار محمد داود خان پلویانو جواب نه دی ویلی.

دا ښکاره خبره وه چي سر دار محمد داود یو له هغو کسانو څخه وو چي په دوهم درجه مقام لرلو نه قانع کېدی دا یې ښه ګڼل په یوه کلي کي وي خو مشر دي وي نه د هیواد دوهم کس. ( دا تکلیف عبدالرحمن خان او تر هغه را ورسته ټولو پاچهانو لاره). دا سي ډېر علایم او شواهد سته چي سر دار داود له ځوانۍ څخه د پادشاهۍ د نیول هوا په سر کي لرل. د فراه د لوی حاکم محمد کریم خان د کورنۍ په وینا، څه وخت چي محمد داود خان د صدراعظم محمد هاشم خان له لوري د کندهار نایب الحکومهء وټاکل سو، سردار داود خان د فراه حاکم عالی محمد کریم ته سپارښتنه کوي چي په فراه او منطقه کي د سردار داود په ګټه داسي تبلغات وکړي چي سردار داود د پاچهي کولو وړتیا لري. د فراه لوی حاکم یې غوښتنه و نه منل، نو لوی حاکم محمد کریم خان په څو ورځو کي له وظیفي څخه لېري کړل سو، بې د لیله ډېرو کلونو له پاره زنداني هم سو.

د سردارمحمد داود خان د پټو تلاښونو نتیجه د چنګاښ ۲۶ د ۱۳۵۲ کال را ووتل د خپل زړه ارمان پوره کولو ته ورسېدی، جمهوریت یې له پورته څخه پر ولس حاکم کړ، په افغانستان کي یې د موکراسي بد نامه کړه، د تیر په شان یې یو سخت استبدادي رژیم بیا خلګو ته ور یاد کړ. رئیس جمهور سردار محمد داود خان او صدر اعظم سردار محمد داود خان یو له بله مځکه تر آسمانه توپیر لاره. د ولس په ذهنیت کي چي کوم سر دار محمد داود خان د خپل صدارت د چوکۍ پر وخت د ځان په ګټه ډېر تبلغات کړی وو، دغه رنګه یې د هیواد په اقتصادي پر مختیا کي څو قدمونه اوچت کړي وه. خو د ریاست جمهورۍ له چوکۍ نیولو سره یې ټول هغه څه چي ګټلي یې وه هغه له لاس ورکړه، د خپلي لومړۍ وینا(خطاب به مردم) مطابق عمل یې نه کاوه، سردار محمد داود خان سخت

عقده مند او کسات اخیستونکی وو او سو. په هیواد کي تبلغاتي وسیلې (اخبار او راډیو) کمزوري د دولت په واک او سانسور کي وه، له بیچاره ولس سره هیڅ هم نه وه.

سر دار محمد داود خان د خپل ځان غوښتني د خصلت له امله او بې ځایه غرور په وجه د جمهوریت په ټوله دوره کي یې د خپلي هغي وینا( خطاب به مردم) په یوه برخه باندي عمل ونه کړ. د نورو سیاسي ګوندو پر فعالیتو یې بندېز و لګاوه یوازي پرچم چي دی یې د قدرت پر ګدی کښینولی وو، تر یو وخته د ځان سره په قدرت کي شریک وساتی. کومه لویه جرګه چي سردار محمد داود خان را وغوښتل د ولس هیڅ استازي په کښي برخه نه لرل. ځکه داود خان خپل د کورنیو چارو وزارت ته وظیفه وکړه چي د خپلو والیانو، ولسوالانو او علاقدارنو پر لاس دې جرګي ته داسي څوک را واستوي چي مخالف نظر ونه لري، والیان، ولسوالان او علاقداران باید د خپلو را استولو کسانو ضمانت وکړي.

دا ځکه چي د ۱۳۵۵ کال په اساسي قانون د سردار محمد داود خان د حکومت غړي د ولسي جرګي څخه په راي اخیستلو باندي مکلف نه وه. ولسي جرکه یا شوراي ملي نسي کولای چي حکومت یا د حکومت اعضاء وي سلب د اعتماد کړي. مانا دا چي ولسونو نسوای کولای د خپلو استازو په واسط د مملکت په اداره کي برخه واخلي. په دغه قانون کي ټول صلاحیتو نه د (۸۷) مادې په اساس په رېیس جمهور پوري تړل سوي وه. (۲۱) ماده نمایشي وه.

د سردار محمد داود خان د جمهوري شاهي نظام څخه په نړۍ واله سطحه د وخت شوروي اتحاد او هندوستان ملاتړ وکړ، مګر همسایه ګانو (ایران، پاکستان) د غربي هیوادونو په شمول په تشویش کي وه. دوی په حکومت کي د چپ ( پرچم) نفوذ نا ارام کړي وه. سردار محمد داود خان د خپل ورور محمد نعیم خان په مشهوره هغه وخت په خپل کورني او بهرني سیاست کي بدلون را وست، په خپل اساسي قانون کښي یې یو حزبي سیستم ثبت کړه او هغه یو حزب به هم د سردار صاحب حزب( حزب انقلاب ملي) وي نور ګوندونه او سازمانونه د فعالیت اجازه نه لري. سردار داود د خپل جمهوریت په وروستیو کلونو کي له مسکو او چپیانو څخه نه دا چي فاصیله ونیول بلکي د هغوی و فزیکي نابودی ته یې هم هغسي ملأ وتړل څنګه چي یې راستو ته تړلې وه.

د سردار محمد داود خان څخه د ښړي یا خپل مرګ له وېري تر پولي اوښتي ځوانانو د پاکستان په مستقیم ملاتړ د هیواد په څو ولسو کي د نهضت اسلامي په نوم مسلحانه حملي و سوې. له دغه ۱۸۰ درجي بدلون وروسته د سردار محمد داود خان په دولتي او ګوندي مشر تابه کي اختلافاتو زور واخست. ددې اختلاف په منځ کي داود خان یو ځل بیا د راستو په ګټه او د چپیانو په خلاف را ووتی.

غوڅ الدین فایق په دې باره د خپل کتاب په ۱۳۷ صفحه کې بې پردې لیکي: ( هغه راز چې نمي غوښتل ووایم ) "محمداود یو خپل سری د یکتاتور، مستبد الرایه بیله دې چې د خپلو ملګرو جمعي راي ته په درنه سترګه وګوري، د خپلي کورني دوستانو نظر یې هم نه اخستی، د کابیني تر میم ته چې ټولو امید لاره سم: کاپورهه، مسلکي او پاک سړي باید مقرر سي، سردار داود خان هغسي ونه کړه، بد اخلاق، په فحشا لړلي او لټ خلګ لکه ( عبدالاله، قدیر نوریستانی او غلاحیدر رسولي) ته یې امنیتي وزارتونه وسپارل، خلګ مأیوس سوه، ټولو به ویل" هغه آش هغه کاسه"

د کورني سیاست سره جفت یې یو دم په بهرني سیاست کې ۱۸۰ درجې بدلون ته لاس وا چاوه، د د باندنیو چارو د وزارت له لاري یې د پاکستان او ایران سره خبري را پیل کړې. ایران دولت د سردار داوخان په سیاست کي بدلون وستایه دغه رنګ یو شمېر اسلامي هیوادونه هم. د سردار محمد داود خان د تشویق له پاره سعودي عرب اول هیواد وو چې (۱۰) میلونه ډالره یې مفت او (۵۰) ملیون یې قرضه و منل. داسي هم ایران په انکشافي برخه کي د مرستو وعده وکړه. دافغانستان او پاکستان تر منځ د لانجي د حل په باب یې د منځګړیتوب وعده یې ورکړه. کویټ ورته سپین چک ور کړه. ښه دا کیسه نو اوږده ده.

لنډه یې داچي د امریکا په فشار د ایران په منګړیتوب سره له پاکستان سره د ډورنډ مسئله د پاکستان په ګټه یې حل کول، د هلمند داوبو لانجه منه پریکړه چې د موسی شفیق د صدارت پر وخت سوې وه سردار داود خان هغه ومنل. غربي نړۍ او عربي افراطیت ټولو له سردار محمد داود خان سره د چپ نهضتو نو د له منځه وړلو پکار کي مرسته کول، سر دار محمد داود خان ( خطاب به مردم) بیانیه لیري و غور څول.

د افغانستان د خلق د دمکراتیک ګوند بد قسمتي له ۱۳۵۶کال د پرچم سره د یوه اجباري، غیري معیاري یووالي له ورځي څخه راپیل سوه. البته شورویانو خپلو اهدافو ته د نژدې کیدو لاره د دغه دوو(خلق او پرچم) په یووالي کي بلل او امریکایانو په منطقه کښي د تشنج ګرم والي په منظور چي شورویان پکښي راګیر او وسوځي اهداف لرل. د خلق د حزب مشر تابه د پاڼ او پړانګ سره مخامخ وو، په خاصه توګه ښاغلی نور محمد تره کی د ورڼو ګوندو له طرفه تر سخت فشار لاندي وو، البته د ورونو ګوندو استازیتوب د هند کمونیست ګوند کاوه. څو ښاغلی نورمحمد تره کی یې مجبور کړه له پرچم سره یووالی ومني، دا ځکه چې د ورڼو ګوندو استازي به ویل "زموږ د معلوماتو په اساس سردار محمد داود خان د امریکا، پاکستان، ایران او ډېرو هیوادونو په غوښتنه او مرسته تاسو او ستاسي ګوند له منځه وړي".

نو دا خبره ده چي زه د خلق او پرچم تر منځ په ۱۳۵۶هـ کال یووالی د روسان له لوري یوه توطیه گڼم. دا یووالی دیوي خوا څخه د پردو ترفشار لاندي او بل لور ته په عاجله بیله دې چي اصول او نورمونه پکښي مراعات سي یوازي د گوند په لوړ سطحه کي په یوه نا معقوله طریقه( ۵۰، ۵۰ )سره په ښکاره سره یو په عمل کي بیل پاته سول. صداقت خو هیڅ پکښي موجود نه وو،که څه چي د حزب ځوان غړي د اصلي خبري خبرنه وه او یا یې نسوای درک کولای یو کم شمیر ځوانان دې وحدت ته خوشحال وه. مگر په څه پوهه د لوړو گوندیانو اکثریت ذهنیت وحدت ته تیارنه وو حتا د دواړو خواو په رهبریو کي یو شمېر اشخاص وه چي وحدت ته پوره صادق نه وه. بلکل دا یوجبري او تحمیلي عمل وو، د شورویانو او امریکایانو شریکه غوښتنه وه، نه خپله د دواړو حزبونو داعضأ و غوښتنه، دا دوه حزبونه په ښکاره سره متحد معلومیده. خو په عمل کي متحد نه وه.

سردار محمد داود خان نه یوازي (سیاسیون) بلکي هیواد او هیواد وال، ځان او خپله کورنۍ تر خپلي ځان غوښتني قرباني کړه.

۱۳۵۷ کال دثور ۷ **د ما سپښین ۱ بجه ۳۰ دقیقي:**

داود خان غوښتنه کوي چې د هغه د کورنۍ ټول غړي د زامنو، لونو لمسیانو او د ده د ورور محمد نعیم د کورنۍ د غړو په گډون گلخانې ته راوستل شي.

**د مازیگر ۵ بجي او ۱۵ دقیقي:**

ولسمشر د گلخانې له دویم پوړ نه لاندې راکوز شو چې خپل وزیران وگوري. وزیران پرې راټول شول. ولسمشر هغوی ته گوري او نرۍ موسکا یې پر شونډو ده. وزیران غلي دي.

سر دار محمد داود خان وویل هېڅ تصورمي نه کاوه چي داسي یو حالت به راځي، اوس چې څه وشول نو پړه یې پر خپله غاړه اخلي.

**د ماخوستن ۹ بجي او ۴۰ دقیقي:**

وحید عبدالله ولسمشر ته وړاندیز کوي چې پلازمېنه په موقت ډول کندهار ته ولېږدوي او پخپله ژر د بهرنیو چارو وزارت له لارې د هغه ښار پر لور حرکت وکړي.

داود خان او مشر زوی یې عمر مخالفت کوي، په داسي حال کي چې ورور یې سردار محمد نعیم وایي چې دا کار باید لا دمخه شوی وای.

پر همدې مهال یو موټر د گلخانې وره ته را رسېږي چې ولسمشر د کندهار پر لور بوځي. ولسمشر راوځي او چې څنگه غواړي موټر ته پورته شي، د ارگ له مخامخ جومات نه پرې یو ډز کېږي. بیا

بل ډز کېږي. داود خان په بيړه بېرته ګلخانې ته ننه وځي او په دې ډول له ارګ نه د وتلو فکر په بشپړ ډول له سر نه وباسي.

**د ماخوستن ۱۰ بجې او ۱۵ دقيقې:**

په ګلخانه کې خورا ډېر کسان ټپيان شوي او چېغې وهي. تياره ده. څوک نه مالومېږي. چې رڼا ته راوځکول شول نو ولسمشر وليدل چې مشر زوی يې عمر مړ دی.

ها خوا يې بل زوی خالد په خورا سخت ټپي حالت کې په وينو کې پروت دی. لور يې زرلښته هم لګېدلې خو حالت يې ظاهراً تر خالد ښه دی. ورور يې نعيم خان هم په پښه لګېدلی او د کورنيو چارو د وزير عبدالقدير له لاس نه وينې بهېږي.

عبدالقدير په ټپي حالت کې هم هڅه کوي له کړکۍ نه د جومات تر څنګ پټ شوي بريد کوونکي پر خپلې کوچنۍ ماشينګنې ووليي. د ولسمشر بل زوی خالد هم ساه ورکړه. لور يې زرلښته هم مړه شوه. له بهر نه لا ډزې رواني دي. ولسمشر پر څوکۍ ناست دی، د بچيانومړوته ګوري خو ژاړي نه.

په سر کې يې څه ورګرځي؟ هېڅوک نه پوهېږي. سترګې يې پر يوه ټکي خښې کړي او غلی دی. وزيران هم زړه نه کوي چې خبرې ورسره وکړي. په ګلخانه کې د کوچنيانو بغارو دهليزونه پر سر اخيستي دي.

**د ثور اتمه، د سهار ۶ بجې ۳۰ دقيقې - ۷ بجې:**

د کوماندو بلوک په ولسمشر پسې ورغی...د تسليمی غوښتنه ترې کېږي... انتظار اوږد شو... او د ګلخانې د دهليزونو چوپتيا <u>**درندو پرله پسې ډزو چې له يوی خونې نه واورېدل شوې**</u>ماته کړه.

دغه (من بيدون خدا به کسي ديګر تسليم نه ميشوم ) چې د سردارمحمد داود خان جيره خواره وايي، مګر دا نه واي چې چاه ويل؟ هغه افسرکوم چې د فوځ د طرفه و داود خان ته وراستول سوی وو، هغه دا شان خبره کول نه مني، چې سردارداود خان دي داخبره کړې وي، سوال دادی چا واوريدل؟ څوک هلته موجودوه؟ چاته يې وويل؟ دغه تاسودچاه په حواله دا خبره کوی؟ امام الدين خان خو داخبره نه ده کړې. نوبل څوک خوداود خان ته ورغلی نه وو،مسلماني په خبرونه ده، د خلګو مخته د خلګو د خطا ايستلو په منظور د مسلمان اکثونه مسلماني نه ده، باور پرخدای (ج) عمل غواړي په خوله اقرارپه زړه تصديق ايمان دی. پس دا خبره رښتيا نه ده. او موږ ولس ته ددې خبري څه ګټه نسته.

دغه لاندي اعمال دوی نه لرل؟ ايا دوی غله نه وه؟، قاتلان نه وه؟، رشوت خواره نه وه، بد اخلاقه نه وه؟، که نه وه نو د کرزي دحکومت پروخت ظاهرشاه دغه ۴۷۴ ميليونو ډالرو په ارزښت

جائیدادونه چي خرڅ کړل او پيسې يې ايټاليا ته يوړې دا د چامال وو؟ له هنده خو ئې پلرونه په لنګو کي راغلي وه. دپردو نوکران د ملت د ښمنان خو همدغه وه. څوک وه او د کم حق، د چاه په خوښه دوې زموږ پرڅټ سپاره وه ؟. پس نو اسلام او د اسلام مقدس نوم ته سپکاوی باید ونه کړو، قاتل وژونکي، ناروا، غله ته د اسلام د خدمتګارنوم ورنه کړو.

ښاغلي ډاکترصاحب ياوزيرصاحب عبدالقيوم خان، ښاغلي داکادميسن کانديد محمد ابراهيم عطائي صاحب، ښاغلي ميرغلام محمدغبار، محمدصديق فرهنګ، جنرال عبدالغني خان، دحقيت التواريخ مؤلفين عبدالحق مجددي او فضل الله مجد دي، ښاغلي محمد کبيرسراج او ښاغلي ډاکترفضل احمد کوهستاني او خورا ډېر نور د سرداري نظام او د هغه د واکدارو محمدظاهرشاه، سردارمحمد داود شاه او سردارمحمدنعيم شاه په هکله او د دې کورنی په باب برابر فکرکوو.

په هيوادکي ډېروهغو راست ګرا ګروپونو او نورو چي د پا کستان داې، ايس، اې مستقيم ملاتړ ورسره وو ډېرځل د هيواد په ډېرو برخوکي د بغاوتونو په نوم ښورښونه وکړل. او د نظامي بدلونونو کودتا ګانو عملونه خپله د سردار حکومت اعلانول اوپدې نوم يې خلګ نيول او وژل.نو د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند هم د ځان څخه د د فاع په منظور د نورو سازمانو په شان خپل نظامي سازمان ته ډيره توجه وکړه. داود خان ربښتياهم د خلق د دموکراتيک سازمان غړي بيله دې چي کوم عمل دي يې کړی وي له وظيفو ليری او بندي کړل او په قصدي توګه يې تلاښ کاوه چي د افغانستان د خلق دموکراتيک حزب مشرتابه تحريک کړي چي د ځانه کوم عکسل العمل وښئي، څو سردارداود ته د هغوی دوهلو،بندي کولو او وژلو بهانه په لاس ورسي.بل اړخ د سردار محمد داود خان په حکومت کي د ننه پټ شوروي جاسوسانو چي شمېر ئې کم نه وو هغو هم له يوه اړخه داود خان تحريک او تشويق کاوه چي د خلق پردموکراتيک ګوند او د هغوی پر اعضأوو فشار راوړي، چي همداسي کيده د وظيفو يې ليري کول او بنديان يې کړه. بل اړخ ته همدغه او نورو جاسوسانو د ورکړه سوي پلان له مخي د خلق دحزب رهبرۍ ته په ټينګارويل چي کره معلومات لري، سردارمحمد داود خان د غربي دولتونو د اعتماد په لاس راوړلو په خاطر تصميم نيولې دی تاسي (خلقيان) اول بيا پرچميان له منځه يوسي.

پس ستاسي د نجات او خلاصون لاره موداده چي ببرته دواړه (خلقيان او پرچميان)سره يوځای سي. څو يو قوت سي او محمد داود خان ونه کولاې سي تاسي له منځه يوسي. خلقي رهبرۍ داسي فکر کاوه چي شورو يان خو زموږ په خير خبره کوي، او بل خواته په عمل کي يې د سردارداود

خان کړني یې لېدلې. نو د سردارمحمد داود خان د حکومت له ویري د شوروي د تشویق او فشارله مخي وو چي د دې دوحزبونو یوځای والي ته خلقي رهبري زړه ښه کړ.

د شوروي د سفارت لخوا تر فشار لاندي راغلی. او ربښتیا خو دا وه چي د شوروي سره تماس هغه وخت دواړواړخونو ځانته یو افتخاراوامتیازهم بلی. یوې خواته جهاني حالات داسي وه، بل زموږ، افغانانو او د هغه وخت د مشرانونه تجربه، د سیاست په هکله لږوه. البته د پوهي او تجریبې کموالی د جهان د سیاستوالو په نسبت، نه په افغانستان کي د افغاني سیاسیونو په پرتله. ښه ددې خبروڅېړل څه ډېر وخت غواړي، او موږ د موضوع لیري کوي. نو د دې کمي تجریبې او لږ پوهي مسؤلئیت هم د کلونو فاسدو حکومتو او په خاصه توگه د عبدالرحمن خان، حبیب الله خان، محمد نادر خان، محمد ظاهرخان او خپله سردارمحمد داود خان پرغاړه ورلوېږي.

په دغو حساسو او د خطره ډکو شرایطو کي د امریکا سفارت، سردارداود خان تر خوړ گوته ټینگ و نیولي وو، غوښتنه یې داوه چي خلقیان ووهي( شورویانو او امریکا یانو) دواړو په داود خان باندي خلقي رهبري نیسي، د داود خان تصمیم وو چي هغوی مړه کړي.

چگونه ما به بیماری وایروسای هجوم به افغانستان مبتلا میگردیدیم. دا سي راوړي دي :د۱۹۷۸م کال د اپریل د میاشتي پر۲۴ تاریخ یوه ورځ د مخه د افغانستان د خلق ددموکراتیک حزب د رهبری د غړو تر گرفتارۍ د متحده ایالاتو لوی سفیر ریچارد ایلیوت چي د کار موده یې پای ته رسیدلی وه، د سردارمحمد داود خان یا رئیس جمهورڅخه دخدای په اماني ملاقات وکړی.د کتاب مؤلف لیکي:"څو ورځي وروسته ورئیس جمهورته نژدي حلقو راپور را کړي، چي د امریکا سفیرریچاردایلیوت کوم چي د تشنج د کمولو سرسخت طرافدار معرفي وو، وداود خان ته داسي مشوره ورکړه د افغانستان د خلق د موکراتیک حزب د مشرانو په وړاندي باید سخت چلند وکړی ځکه چي امنیت تهدید وي او په مقابل کي سفیر د خپل ځان او د امریکا د حکومت لخوا ورئیس جمهور داود خان ته د زیاتو او هر اړخیزو مرستو وعده ورکړه".

ځکه څه کم شپیته کاله زموږ ولس دوی د علم، پوهي، سیاست او خبرو څخه بې خبره ساتلي وو، ددغي (اهلي یحی) کورنۍ سلطنت او د نه کار نتیجه وه. د دي جهاني لوبي په انجام نه دا چي خلقیان نه پوهیدل بلکي خپله سردار داودخان، د هغه ټوله کابینه، استخبارات پولیس هم نه پوهیده او یا د پردو جاسوسان وه دغسي یې غوښتل. ولې که دوی پوهیدلای او جاسوسان نه وای داود خان به یې د خپلوغیري سنجیده اعمالو دراتلونکو بدو عواقبو خبرکړی وای. باورولري کم وخت چي موږ ځوانان وو دداسي چا سره به مخامخ سوو، چي هغه په شوروي کي زده کړي کړي وي. هغوی به

موږ ته د خپلوسترګولېدني، د شوروي د ټولني، ژوند، پر مختګ، کیسي کولې، موږ څه نه او ریدلي وه او نه مولېدلي وه، ټولي خبري راته عجائی بې وې. ځکه دمطالعي او معلوماتو لپارهم دې شهزاده ګانو پر موږ ټولي لاري تړلي وې. برق، کتاب، اخبار، را دیو او تلویزون مونه لرل او نه پیژندل. دا یوه خبره به د ځوانانو د پاره ولیکم :تاسي به فکرکوی چي په افغانستان کي په رښتیا یو نظام وو، هلته نظم وو، هلته انسانیت وو، هلته علم او پوهه وه. نه بابا هیڅ هم نه وه.

دمثال په توګه ولایات، ولسوالي او کلي هلته پرېږدی. په کابل کي د شاهي ارګ د شمالي دیوال سیوري ته هرلاروي بولي حتی لوي او دس مات هم دمجبوریت او مناسب ځاي نه شتون له عمله ماتاوه. د ښار ټولي کوڅي د انسانانو په مرداري لړلي وې. په ټول کابل ښار او د افغانستان په ټولو لوي او کوچنیو ښاروکي همدغه حالت وو، د خلګود استفادې د پاره په هیواد کي یوتشناب هیڅ حکومت جوړ کړی نه وو. پوهیږي چي ناربنه خو خیر په کوڅو کي خپل رفع حاجت کاوه مګر دا ښځو بیچاره ګانو به څه کول؟. علاوه پرن ورو بدبختیو.. .. شوروي او کارمل دواړو غوښتل چي ببرک کارمل د سردار داود خان ځای ناستی کړي خو په تنهاي سره يې سره يې دا کار کولای نسوای چي د داود خان پاچهي ړنګه او د حکومت واګي واخلي. د خلق دموکراتیک جریان یې د لاري اصلي خنډ وو. پدې چي د افغانستان په ملي اردوکي دخلق د دموکراتیک ګوندغړي هغه یوازني افسران وه چي د سردارمحمد داودخان سلطنت یې ساتی. متاسفانه سردارمحمد داود خان سیاسي پوهه کمه او ددرک سطحه یې کمزوری وه، په کابینه او مشاورینوکي یې دفاسدواو جاسوسو اشخاصو تله درنه وه. نوهغه ووچي شورویانو د خپل پلان د سرته رسولولپاره څه او ږده لارونیول. لومړی ددوحزبونو خلق او پرچم وحدت، ترهغه وروسته د داود خان او حزب ترمینځ د ټکرخبره، د شوروي او کارمل هدف داوچي په لومړي قدم کي دپرچم د ننه د کارمل سرسخت د ښمن او سیال میر اکبر خیبر ترورکړي. څو د هغه له شتونه ځان بیغمه کړي او بیا د پلان د مخي د جوشه ډک د جنازې مراسم د کارمل په ټینګار او غوښتنه وکړل.

هلته کارمل د مکر اوښکي تویوي، د نورمحمد تره کي څخه جدي غوښتنه کوي چي د جنازي پر سر باید دی هم د حزب د عمومي منشي په حیث بیانیه ورکړي.حال دا چي نورمحمد تره کي تردغه د مخه هیڅ کله هم په مظاهرو او میتنګو نوکي د ستیج پرسرخبري نه کولي. کارمل صاحب، شوروي استخباراتي شبکو او سرداداود خان په ګډه او مشترک پلان لاره چي دا لوبه د سیاسیونو په خاصه توګه د خلقیانو په له منځه وړو کي به بریالي سي.

شورویان خپل پلان مخته وړي څو کارمل په سیاسي ډګر کي تنها پاته او په راتلونکي کي یې مخته کړي او دراتلونکي لپاره یي د داود خان ځای ناستی کړي. د امریکا د سفیر تراطمینان وروسته په دغه شپه سردارمحمد داود خان په خپل کورني مجلس کي د خپل پلان پر بریالیتوب افتخارکوي و خپلې کورنۍ ته داسي وائې: "زه په خپل پلان کي بریالې یم ". د شوروي پلان سم مخته ولاړې.اوس نو یوې خواته سردارمحمد داود خان د خپلي مړې، مستي، بیکاري، د هر څه بی خبره، عیاشي کابینې سره په هوا کي پاته سو. نو "پهلوان زنده خوش است" دا د سردار محمد داود خان د زوی ویس خبره ده چي وایي "پلارمي د واوري زمری دی، خومنځ یې ویلي سوی او پر راتول یې ټول د ښمنان دي ".پر راټول هر یو ورته وائې:" رهبرهم داسي وي". دهرغیري لازمي عمل تائید ئې کوي او د داود خان د نورو مریضیوعلاوه ځان خوښوني نورهم بې ایمانه کاوه.

سردارمحمد داود خان هوښیاردوست او مشاور نه درلودی. دا چي اوس یې پر قبراوښکي تویه وي داهغه غوړمالان، مفت خوره او یا د هغوی د کورنۍ پاته شوني دي، دوی فکرکوي چي په دې چل به ځانونه غربې حلقو ته نژدې کړو. که یو وار بیا یې د قدرت واګي زموږ په لاس کي راکړې. دوی ټول پر وخت د کار د پیل په غوږ کي بیده وه، شوروي، امریکا او جهان ټول حالات څاری. اوس نو داودخان او ساده مشاورین یې د خلق د دموکراتیک حزب د نابودی پلانونه جوړوي. شورویان، امریکا یان وخپله کارمل صاحب و دې اورته پکی وهي.

دا ځکه چي نور خو ئې ټول وخوړل، غواړي دا سخت هډ(د خلق دیموکراتیک ګوند) هم تیرکړي. د پښتو ژبي نه زده کړي ورته دا تاوان واړ اوه. که نه خو په پښتو کي مشهور متل سته چي وائې :سپي چي هډوکي خورې خپلي شاه ته هم ګوري. بل ځای وائي چي د ګیدړ وجنګ ته باېد تیاري د زمري په شان ونیول سي. نو د زمري سره جکړي ته باېد څو نه تیاري نیول سوې وای؟. د شورویانو، امریکا یانو، کارمل اګاهانه او د داودخان بې باکانه او ناګاهانه، د هغه نامعقول حرکت څخه راپیدا زخم دی چي تراوسه یې وینه نه درېږي که هغه وخت په سړو اعصابو معقول فکر سوی وای، اوس به داحالت نه وای.

زما د خبرو په تائید سره دپ رچم درهبری دغړي عبدالقدوس غور بندي د لیکونو څخه هم داسي معلومیږی چي د میراکبر خیبر په ترورکي به حتمي د ببرک کارمل رضایت او موافقه وه. او د وروستیو انکشافاتو څخه هم داسي نتیجه سړی اخیستلاي سي. د میراکبر خیبر دپرچم درهبري برجسته غړی او د ببرک کارمل سرسخت سیال په خټه پښتون، په ترورکي به یې د کارمل او خپله د سردارمحمد داودخان لاس او رضا ئیت داخل وي. او پلان روسي وو، د خیبر مړی د کارمل

دغوښتني له مخي د حزب لخوا په ښه درنو مراسیمو سره خاوروته سپارل کیږي. له دې خبرې څخه هم سړی پوهیدای سي او باور یې ټینګیږي چې د خیبر په ترور کې به حتمي شوروي د خیل وي. ولی د خیبر د ترور دوسیه تعقیب نه سول. سردارمحمد داود چپ وو، نورمحمدتره کی، حفیظ الله امین، ببرک کارمل او داکټرنجیب الله او وروسته نور ټول چپ پاته سول. کله ناکله د سیاسي ګټی پربنیاد دا مرګ یاترورغندل کیږي. د سلطان علی کشتمند د خبرو په اساس کارمل ترهربل چا ډېر وژړل. څه ښه وائي: هم مي ووژني په خپله، هم پر ماباندي ژړاکاه، څه ښه یاردی ښه یې مینه، وژل هسي شبخون هسي. او سلمان لایق خو بیا په خپلو خبرو کې د خیبر د وژلو کیسه لڅه بیان کړیده، چې د کارمل په دستور د نور احمد نور په وساتط د شوروي په سلاح او موټر سره دغه ترور تر سره سو.

لنډه یې دا چې جنازي د ښخیدو پر وخت په خبروکي حکومت ته د ملامتیا ګوته نیول کیږي، چې دا یوه طبعی او عادي خبره ده، د قاتلینو د نیولو او په جزا رسولو غوښتنه، په خپلو ویناو کي کوي. ایا دا کُفرو سوو چې د قبر پرسر خبري وسوې، یعني په یوه ملک کي چې پر خپل مړي ژړل کُفر وبلل سي هغه به نو څنګه ملک وي؟ د جنازي په مراسیمو کي د زیاتو خلګو برخه اخیستنې د داود خان وکابینې، د امریکا د سفیر، د شوروي د سفیر ټولو نور اندامونه ور ولړزول. څکه دوی هیڅ داسي فکر نه کاوه چې دې حزب دي دونه ریښې څغلولي وي. سردار داود خان په هغه شپه د آمریکا د سفیر مؤافقه اخیستې وه، او بیا یې په عاجله توګه د خپلو بیکاره مشاورینو په مشوره، فیصله وکړل، چې همدغه خبري او غونډه یوه ښه بهانه، پلمه او تهمت کیدای سي، رائي دغه دخلق دموکراتیک حزب غړي هم د نورو په شان په دغه تور ونسو او ورک یې کړو. داسي ډېر انسانان دې کورنۍ خوړلي وه. او د خلګوورکیده ورته کوم مشکل کار نه وو، دې کورنۍ هیڅکله هم انسان ته دانسان په سترګه نه وه کتلي.

پای

.

salamwatanam@gmail.com